Pashtou

# د تنکي ځوانانو د سرپرستي کورنی سره د اسبابونو او ټګ د مصارفو د مرستي معلومات د ۲۰۰۴ لمریزکال د جون د ۲۴ نیټی د مادی له مخي .

## د غیرقانوني اوسیدونکي یوه تنکي ځوان سره چي د سرپرست سره اوسي د کومو اسبابونو مرسته ورسره وشي ؟

د ۲۰۰۴ لمریز کال څخه را په دیخوا په بلجیم کښي د غیر قانوني اوسیدونکو تنکي ځوانانو لپاره چي د یوې سرپرستي کورنی سره ژوند کوي دعلیهده قانون له مخي یوه خاصه مرسته کیږي.دا مرسته یوازي د کمپ په مرکز کښي ورکول کیږي چي د فیدازیل د موافقی او د اصلو او مقرراتو برابر د بهرنیو چارو د دفتر په وسیله رهبري او هدایت شي .
دا مرسته عبارت ده د یوی خاصي مرستي څخه چي د « اسبابونو مرستي » په نامه یادیږي ، په دی مرسته کي د اوسیدلو شریک ځای په کمپ کي تر هغه وخته چي تاسو ته ستاسو د اوسیدلو د اجازی پر بنا یو سوسیال مادي مرسته درکړي ، د خپلي غوښتني پر اساس د بیرته راتګ مرسته ، خواړه او همدارنګه د جیب خرڅ .

## کوم شرایط باید د اسبابونو د مرستي د ترلاسه کولو لپاره پوره شي ؟

د کمپ په موده کي د اسبابونو د مرستي د ترلاسه کولو لپاره دا څلور شرایط باید پوره وي :
* تنکی ځوان باید تر اتلسو کلونو کم عمر ولري ؛
* تنکی ځوان او یا د هغه کورنی ( یا د ماشوم یوبل مشر مسؤل ) په بلجیم کي بیله اسنادو ژوند وکړي ؛
* د کورنی سره اړیکه او یا د کورنی اقتدار باید موجود وي ؛
* ماشوم بی بضاعته وی ، څکه چي کورنی او یا هغه کس چي د کورنی اقتدار تمثیل کوي هیڅ نه لري او یا هم د دی ماشوم د ساتني او پالني قدرت نه لري .

Pashtou

## څرنګه د اسبابونو د مرستي د لاسته راوړلو لپاره غوښتنه وکړو ؟

د دی مرستي د ترلاسه کولو لپاره باید د خپلي ناحيی د سوسيال دفتر ث پ آ آس ته غوښتنليک ورکړی .
د ث پ آ آيس اصول دا دي چي ستاسو څخه باید ستاسو غوښتنليک تسليم کړي ، تاسو ته د اسبابونو د مرستي پر طبعي حالت او اجراتو معلومات درکړي او ولټوي چي ستاسو غوښتنليک په سم ډول ليکل شوی او پوره دی .

کله چي يو ماشوم د اسبابونو مرستي د ترلاسه کولو د شرايطو سره سم وي ، دی او د ده کورنی يوه کمپ ته رهنمايی کيږي .
په هيڅ صورت کي تاسو نه شی کولای خپل پر سر په مستقيم ډول د کمپ مرکز ته راشي او درخواست ورکړی .

## دکډوالی غوښتلو د جذب د دولتي اداری د اوسيدلو د ورانديز سره څه باید وشي ؟

هغه وخت چي نوموړي د کډوالی غوښتلو د جذب د اداري له خوا نهايی تصميم او همدارنګه د توزيع له اداری سره د وخت د نيولو امر تر لاسه کړي ، ث پ آ آيس ستاسو څخه غواړي چي په ليکلي ډول په يوه کمپ کي د اوسيدلو دا وړانديز او مسؤليت ومنی .
ث پ آ آيس تاسو ته د اوسيدلو د ځای د وړانديز ليکل شوو او امضا شوو کوم چي تاسو منلي ، اسنادو څخه يوه کاپي تاسو ته درسپاري . دا سپارل شوي اسناد تاسو رابولي چي تاسو د تسليميدلو د خدماتو دفتر ته پر ټاکلي وخت ورشی تر څو ماشوم او يا هم ستاسو کورنی د اوسيدلو د دغي پروسې څخه مستفيدي شي .
تاسو همدارنګه حق لری چي دا وړانديز په ليکلي ډول رد کړی . د رد دا لاسليک شوی سند د دی معنی ورکوي چي تاسو د اوسيدلو د ځای د وړانديز د منلو څخه انکار کړی دی .

## په کمپ کي د سامان الاتو د مرستي د ويش په څرنګوالي څرنګه پوه شو ؟

که چيري تاسو د کډوالی د جذب د دولتي اداری له خوا څخه د اوسيدلو د ځای وړانديز منلی وي ، تاسو باید د ث پ آ آيس د هغو درکړل شوو اسنادو سره خپل ځان پر ټاکلي وخت د

توزيع د خدماتو ادارى ته حاضر كړى ، د ديرشو ورځو تر تيريدلو مخكي بايد ځان حاضر كړى .
د توزيع ادارى ته ستاسو د راتګ سره سم ، تاسو ته ستاسو او يا هم ستاسو د ماشوم د اوسيدلو لو سرپناه د كمپ ادرس دركوي په كوم كي چي ستاسو ماشوم به هلته ووسي .
د اوس لپاره د اوليه مرستو وركول يوازي هغو خلاصو كمپونو ته وركول كيږي چي په دولت كي د خارجيانو د دفتر د خاصو اصلو او مقرراتو پر بنسټ د كډوالي د جذب د ادارى په مشوره ، ملاتړ او ملګرتيا لاس په كار وي . په كمپ كي د اوسيدلو پر وخت ، تاسو به د يوه سرپرست يا ملګري د درلودلو حق ولرى تر هغه چي تاسو په خپله خوښه بيرته ګرځى ، د دغي مودى په منځ كي دا مرسته په تاسو پوري تعلق لري تر څو تاسو ته د پولي د ترك امر راځي .
تاسو هر وخت كولاى شى چي د اوسيدلو د ځاى وړانديز رد كړى مګر دا رد به تاسو د لومړنيو سامان الاتو د مرستو څخه هم معاف كړى .
په هغه صورت كي چي تاسو كه چيري وروسته د يوه بل كمپ په دننه كي ځاى ونيسى تاسو مجبوره ياست چي يو بل درخواست يا غوښتنليك د اوليه مرستو لپاره و هغه ناحيى ته تسليم كړى چي تاسو ژوند پكښي كوى .

پاملرنه : تاسو كولاى شى چي خپل ځان د خپلي كورنى د ټولو غړوسره د توزيع ادارى ته تسليم كړى چي د اوليه مرستو څخه مستفيد شى چي ماشوم ، ماشومان ، تنكى ځوان ، تنكي ځوانان پكښي شامل دي البته د ث پ آ آيس فيصله ، د توزيع د ادارى دعوت نامه او همدارنګه د اوسيدلو د ځاى د منلو هغه لاسليك شوى قرارداد څخه يوه كاپي .

## د بيرته راتګ لار څرنګه طى كړو ؟

كله چي ستاسو د تګ لپاره د تګ يوه مركز ته راشى د كډوالى غوښتنلو د دولتي ادارى د تللو يو مشاور او د خارجيانو له دفتر څخه يو لارښونكى به تاسو ته د بيرته تګ وړانديز د اوليه مرستو په چوكاټ كي تاسو ته او ستاسو د كورنى سره د ماشوم او يا تنكي ځوان د ليږلو په صورت كي چي ستاسو سره يو ځاى غير قانوني ژوند كوي ، وكړي . كه چيري ضرورت وي نو د لا ښه پوهاوي لپاره د يوه ژباړونكي موجوديت هم په نظر كي نيول شوى دى ، د دى لپاره چي ستاسو د وينا د افهام او تفهيم مسلى سم صورت نيولى وي .

د بیرته تګ د لاري معلومات د یوه سند په ډول ترتیبیږي چي د کورنی د هر لوی او مشر غړي له خوا لاسلیک کیږي ، دا سند عبارت دی له :

* د بیرته تګ د لاري پوهاوی او د کورنی د وروستی حالت په اړه معلومات .
* د خارجیانو د دفتر مکلفیت د کورنی د انتقال په وخت کي د دی پروسی په اجرا کي کورنی یو له بله جدا نه شي .
* د کډوالی د جزب د دولتي اداری مکلفیت دی چي د یوه مشاور او میلمه پال ځای خپل کړي .

همدارنګه د هویت یوه پاڼه د کورنی د هر لوی غړي له خوا ډک او لاسلیکیږي .

د اوسیدلو د اجازی د غوښتنلیک روانه پروسه د خاجیانو د دفتر له خوا څخه په اولیت کي څیړل کیږي او تاسو ته د بیرته په خپله خوښه تګ په هکله معلومات درکول کیږي . کله چي تاسو خپل ځان خپله مکلف کړی او د بیرته په خپله خوښه د تګ سند لاسلیک کړی ، د خارجیانو دفتر به ستاسو د اوسیدلو موده تر هغه وخته اوږده کړي تر څو تاسو دا هیواد پریږدی ، تر څو موږ ستاسو د بیرته په خ٠پله خوښه د تګ پروګرام تنظیم کړو .

په خپله خوښه د هیواد پریښودل د بیرته تګ د امر د نیټی څخه مخکي باید صورت ومومي . که چیري ستاسو له خوا څخه د یوی مهمي او مستقلی پیښی په خاطر ستاسو په خپله خوښه تګ کي ، تاسو کولای شی چي د دی مودی د زیاتوالي غوښتنه وکړی. دا غوښتنلیک باید د خارجیانو دفتر ته دیوه دلیل په صورت کي د لیك په زریعه ولیږل شي .

که چیري ستاسو د بیرته تګ پروسه ناکامه شي ، څه به وشي ؟

---

د هیواد د پریښودلو د امر د مودی د ختمیدلو په وخت کي ، که چیري تاسو د خپل اوسیدلو د اجازی د غوښتنلیك یو مثبت جواب تر لاسه کړی نه وي او که چیري هیڅ کوم مکلفیت د بیرته په خپله خوښه د ستنیدلو لاسلیک شوي نه وي ، د خارجیانو دفتر به ستاسو په هکله یوه فیصله وکړي چي تاسو د کمپ څخه په زور وشړي . په داسي حالت کي ستاسو د اوسیدلو اجازه د بیرته په خپله خوښه د تګ کمپ کي هم پای ته رسیږي .

## څه وخت او کله ستاسو میلمه پالنه په کمپ کي پای ته رسیږي ؟

* کله چي تاسو د اوسیدلو اجازه نامه ترلاسه کړی .
* کله چی تاسو په خپله خپله خوښه خپل هیواد ته ستانه شی .
* کله چي تاسو د بیرته تګ کمپ ته ولیږل شی کوم چي د خارجیانو د دفتر له خوا اداره کیږي تر څو تاسو له هیواده وباسي .
* کله چي تاسو کمپ پریږدی .